# خیمه یی چینجیان یانوکربتنګان

# Tent Caterpillars—Lackey Moth (*Malacosoma neustria*)



چینجی په خیمه کی



دوکرپتنګ چینچی





دخیمی چینجیودهګیوتولګه

**توضیحات**: ددی چینجیانوچی زیات تاوان رسوی اوپاڼی اومیوه له مینځه یووړل شوی ده ریپورت ورکړای شویدی. دی حشری ټول انواع چی په افغانستان کی پیداکیږی یوشان ندی. خونوکرپتنګ Lockey moth په افغانستان کی پیژندل شوی دی چی په اروپااواسیاکی موجوددی. داحشره له سرطان څخه ترسنبلی پوری وی اوهګی دونوپه نودوکی یوځای اچوی. دابچی په حمل کی له هګی څخه راوزی. اوپه ډیرلږ به خیمه کی تغذیه کیږی. اوپه جوزاکی دبتیتی په شکل راځی اوپه پیله کی پاڼواوچاودونوکی پاتی کیږی. خونورانواع ددی حشری (خیمیزچینچی) خپلی خیمی په ماښام اوسهار کی پریږدی. که پدی وخت کی په خوراکی حشره وژونکوباندی دواپاشی وشی اغیزمن به وی.

**معاینه اونظارت** : پخوالدی چی هګی بچی شی دژمی په وروستیووختونوکی ولټول شی. اوپه لومړیوخیموپسی وګرځو.

**مخنیوی:** هګی اوخیمی په لاس له مینځه یوسی اوباید په لاس مودستکش وی ځکه چی داموادزهری دی. داسی وخت وټاکی چی چینجی په خپلوخیموکی وی. داډیره ښه طریقه ده خوکه مقدار ډیرزیات شوی وی Bt باید دواپاشی شی. دایونوع بکتریادی (Bacillus thuringiensis) نومیږی چی نه یوازی خیمی بلکه ټولی پاڼی چی وروسته دغه چینجی هلته تغذیه کیږی باید دواپاشی شی.همدارنګه سایپرمترین له لمدوونکواویاچی دمینځلوله مایع سره ګډشی. ترڅوچی په خیموکی لاندی ولاړی شی. که څه هم پدی طریقه کی دښمن متاثره کیږی خودایوه ډیره اقتصادی طریقه ده.داکاردګل په وخت کی مکوی ځکه چی دشاتومچی به مړي کړی.